م. اجمل زرمتی ۲۰۱۲/۰۲/۰۲

# ملی متحده جبهه او د افغانانو لپاره حیاتی موضوع:

د هر موضوع د بیان لپاره اول باید هغه موضوع تعریف شی دا چی هره موضوع د پوهانو, منورینو او د قلم او نظردخاوندانو لخوا بیلا بیل تعریف لری او هر چا د خپل سیاسی او اجتماعی موقف له نظره څخه ملی موضوعات څیړلی دي. په هر صورت را به شم ملی متحده جبهه ته اوهغه دا چی په ملی متحده جبهه کی د مختلفو عقایدو او نظر یاتو خلک، بی له ایډیالوژیکی او طبقاتی افکارو او تبلیغاتو کولی شی د یوه ګډ، متحد او ملی ارمان د لاس ته راوړلو لپاره په ملی متحده جبهه کی سره را ټول شي، او د یو بل خبری او نظریات په ډیره سړه سینه او ورین تندی واوری او یو بل ته د همکاری او همیاری لاس ورکړی اوس به دا ستاسو قدرمنو لوستونکی ته پریږدم چی ایا کومی جبهی او ملی ایتلافونه چی په اوسنی او یا تیرو دری لسیزو کښی جوړی شوی تر کومه حده پوری ملی ارزښتونه ته وفادار پاتی شوی دی، او ملی ارمانونه په کی نغښتلی دی او ایا دوی واقعا کولاشی چی بی له ایډیالوژیکی او طبقاتی افکارو څخه پرته د یو خاص هدف د لاسته راوړلو لپاره په ګډه سره کار وکړی زما په شخصی اند هیڅکله هم دوی نشی کولی چی دوی د داسی جبهی په مطرح کولو سره له ټول افغانستان څخه د سیاست په ډګر کی نمایندګی وکړی.

همدا رنګه ژبنی، نژادی او مذهبی اختلافات هم نشی کولای په هیڅ ډول د واقعی دیموکراسی د پیاده کولو په لاره کی خنډ واقع شی. تاسو وګوری د هند معاصر تاریخ ته، په کوم کی چی ذاکر حسین د هند د ازادی د لاری د مسلمانانو ستر علم بردار وو. هغه د یوی مسسلمانی کورانی څخه وو. او همدا راز مهاتما ګاندی چی یو ازادی غوشتونکی هندو وو. ولی دوی دواړو چی د مختلفو عقایدو او نظریاتو خاوندان ول وکولای شول چی د یو خاص او ملی ارمان د لاسته راوړلو لپاره ګډ کاری وکړی. او هغه ملی هدف د هند استقلال او ازادی وو، نو زمونږ د واحد افغانستان ولس په تیر بیا پوهانو، منورینو او ملی او اجتماعی شخصیتونو ته چی یو له بل سره د ورونو حیثیت لری څه ورپیښه ده؟ دوی ولی یو داسی ملی متحده جبهه نه جوړوی په کوم کی چی علما، پوهان، منورین، ملی او اجتماعی شخصیتونه حضور ولری زما په اند خو دا ټول مسولیت بیا هم هغو اشخاصو ته متوجه ده کومو ته چی می اشاره وکړه، دوی ولی د اوسنی ملی ستونزو او مصایبو د پای ته رسولو په غرض د یوه ګډ ملی ارمان پر بنست په ملی متحده جبهه کی یو د بل تر څنګ نه کښینی؟ دوی ولی یو دبل خبروته غوږ نه نیسی؟ او د شخصی مسایلو پر بنسټ یو له بل څخه فاصله نیسی؟ زما په نظر د افغانانو دغه بیلتیا او نفاق دا معنا لری چی زمونږ پوهان او منورین د خودپرستی او جاه طلبی په ناروغیو اخته دی او تر څو پوری چی دا ناروغی په واقعی ډول سره معالجه نشی مونږ نشو کولای د یو داسی ملی متحده جبهه انتظار ولرو په کوم کی چی ملی ارزښتونه ته پام نه وی شوی. البته په اوسنی خطیر حالت کی تر بلی هری موضوع ملی ایتلاف او ملی منافع باید په نظر کی ونیولی شی، که نه نو د یوی بلی ستری فا جعی سره مخامخ کیږو. او که دا مونږ د ملی ارمان د لاسته راوړلو لپاره ژر تر ژره لاس پکار نشو نو دا زمونږ د افغانانو فقدان او نشتوالی ثبوت کوی.

لیکن که افغانی پوهان او د ملی نظر خاوندان د نن ورځی په بحرانی شرایطو کی د ملی ارمانو د تر سره کولو لپاره د یو کډ هدف او منظور پر بنسټ خپل مو جودیت د ملی متحدی جبهی په وسیله اثبات کړی او ډله اییز ملی تحریک پیل شی زه مطمین یم چی یو ځل بیا به د هیلو دروازی د افغانانو پر مخ خلاصی شی، او ټول لاسونه به د ملی متشکل ایتلاف په لور اوږده شی، او هر چیرته به دوی د یو واحد قوت په صفت حساب شی ، او نور به هیڅ یو غربی او یا هم شرقی هیوادونه و نکړای شی چی د افغانستان د تجزیه خوبونهووینی.

نو بیا هم له ټولو افغانی پوهانو او د قلم او نظر خاوندانو څخه د یو ځوان په صفتِ غواړم چی تاسو چی د مقالو په لیکلو او ویناووکی ښه شهرت لری نور په مقالو او تبصرو نه کیږی سیاسی عزم او اخلاص غواړی. راځی د یو سیاسی قوت د تشکیلولو لپاره تاسو مخکی شی مونږ د نوی نسل ځوانان به در پسی شو او هغه بد نامه ډلی چی په جامعه کی ریشی نلری د هغو څپوهل او تجریدول دروند او مشکل کار نه دی زمونږ لویه ستونزه د ملی وحدت او ملی قیادت نشتوالی دی بس، او دا سیاسی تحریک په خبرو، مرکو نکیږی بلکي عملی هوډ غواړی نور د شرق او غرب په مقابل کی د ضعف


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یا حقارت احساس او یا په خارجی قوتو متکی کیدل او یا له هغه مرعوب او یا هغو ته مجذوب او مفتون کیدل پخپل ځان او د خپل سر نوشت ساز ملت په قدرت او توانایی باندی اتکا نه کول ، ملی ځواک حقیر ګڼل دا یو له هغو لویو اجتماعی ناروغیو څخه دی چی د استعدادو د ودی او د ملی شخصیتو د تبارز او د هر ډول ملګرتیا سیاسی مانع کرځی. نو په اخر بیا هم په ملی وحدت او ملی متحد جبهه باندی تاکید کوم تر څو د دغه ډله ایزه تحریک په وسیله خپل ږغ بین المللی ټولنی ته، جهانی سیاست مدارانو ته او افغانی جامعه ته ورسوو. او هیچا ته اجازه ورنکړو چی د ستر قهرمان مجاهد ولس سرنوشت پردی خلک په پردیو هیوادونو کی وټاکی، دغه کار افغانان هغه وخت تر سره کولای شی چی همدغه امکان واقعیت او انتظار په حرکت تبدیل شی.

او زمونږ د هیواد اساسی خطوط باید د افغان پوهانو له لوری باید په واقعی ډول سره بیان شی نه دا چی مونږ په دی انتظار شپی او ورځی سبا کړو چی زمونږ لپاره به اساسی خطوط او د هیواد برخلیک به هغی بی حرکته او د برکت په انتظار ناست افغانان ټاکی، کوم چی په شرق او غرب کی اوسیږی او یا هم هغه داخلیان چی د هغوی ملی وحدت، ملی ایتلاف، حق او عدالت ټولو افغانانو ته معلوم دی "این خیال است و محال است و جنون".

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ